یـــونامـــا
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دمرستندویه پلاوي دفتر
دستراتیژیکو اړیکو دفتر
مطبوعاتي اعلاميه
www.unamanews.org/pashto

په کابل کې د جولای د ۲۳مې نیټې د برید په اړه دیونامادبشري حقونوځانګړی رپوټ

د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر۱۸مه – په کابل کې د جولای د ۲۳مې د برید په تړاو، چې ۸۵ ملکیان پکې ووژل شول او تر ۴۰۰ ډیرپکې ټپیان شول د یوناما د بشري حقونو په اړه ځانګړی رپوټ، چې نن خپور شو، دمذهبي او قومي ټولنوپه ګډون د ټولو افغانانو اساسي بشري حقونو ته د درناوی غوښتنه کوي.

"د ۲۰۱۶ کال د جولای په ۲۳ مه په کابل کې په سوله ییز لاریون برید " په عنوان دغه رپوټ د لاریون ننګونکي ماهیت، پلان او د افغان امنیتي ځواکونو تیاریو، دلاریون پرمهال د دوی چلند اود برید پرمهال او تري وروسته ددوی بیرني ځواب ته کتنه کړي. رپوټ په اړوندو برخو کې افغان چارواکو ته د بشري حقونو په اړه اندیښنه ورپه ګوته کړي. رپوټ د خطرونکو د کمیدو له اړخه دافغان ځواکونو او د لاریون د تنظیمونکو لخوا دپورته کړیو ګامونوپه اړه هم بحثونه کړیدي.

لاریون کونکي، چې د روښنایي په غورځنګ مشهور دي، د جولای په ۲۳مه نیټه یې په کابل کې یو ستر سوله ییزلاریون وکړ، چې په پای کې دوو برید کونکو، چې یوه یې خپلو چاودیدونکی واسکټ ته د لاریون کونکو په منځ کې چاودنه ورکړه ، او د دویم برید کونکي چاودیدونکي توکو چاودنه ونکړه او د افغان امنیتي ځواکونو لخوا په ډزو سره وویشتل شو. تقریبا ټول تلفات نارینه ملکیانو ته ووښتل، چې د هزاره ټولنې غړي اواکثره یې شیعیه مسلمانان وو.

رپوټ نه یوازې دې پایلې ته رسیدلی، چې د جولای د ۲۳مې نیټې برید کې په قصدي ډول ملکیان په نښه شویدي او موخه یې په ملکي وګړو کې د ویري خپرول وو، بلکې دا د بشردوستانه حقونو څخه جدي سرغړونه ده، چې کیدی شي یو بشري جرم وګڼل شي. له ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما ملکي تلفات ثبتوي دغه برید په یوازې سرپه افغانستان کې د ملکي تلفاتو له اړخه ترټولو خونړی برید وو.

په راپور کې اشاره شوې، چې دغه برید په قصدي ډول د ټولنې دیوه ځانګړي قوم او مذهب خلک په اندیښمنونکي ډول په نښه کړي. داعش چې په اسلامی دولت نومې ډلې مشهور دی، ددې حملې پرې په غاړه اخیستې، چې ددوی دا عمل مذهبي تاوتریخوالي او نفرت ته لمن وهل دي. دغه برید د لاریون کونکو او دنظر او د بیان پر آزادۍ او سوله ییزې غوندې ناوړه او منفي اغیزې درلودې.

دا رپوټ په داسې مهال خپرېږي، چې د داعش له لوري تاوتریخوالي ته د لمن وهلو اندیښنه مخ په زیاتیدو ده. د اکتوبر په ۱۱ او ۱۲ د شیعیه مسلمانانودعاشورا د مراسمو په دوو جلا جلا بریدونو، په کابل کې او بلخ ولایتونو کې لږ تر لږه ۳۵ کسان ووژل شول او له سلو زیات کسان ټپیان شول. داعش په انټر نټ یوه بیانیه خپره کړه او په کابل کې یې د اکتوبر د میاشتې د برید مسؤولیت هم ومانه او د جولای د ۲۳ نیټې د حملې په څیر ژبه یې وکاروله.

یوناما په خپل راپور کې یو لړ سپارښتنې کوي، چې دمذهبي او قومي ټولنو په ګډون د ټولو افغانانو اساسي بشري حقونو ته درناوي زیات شي او همدارنګه د هغې ستراتیژۍ په بشپړیدو او پلي کیدو ټینګار کوي چې په کې د تاوتریخوالي مخه ونیول شي.

دغه ماموریت ټینګار کوي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون پر بنسټ د عبادت د ځایونو په ګډون باید په ملکي کسانو او ملکي شتمنیو باندې دعمدي بریدونو مخه ونیول شي.

***

د ۲۰۱۶ کال د جولای په ۲۳ مه په کابل کې په سوله ییز لاریون برید لاندې ادرس د لاس رسي وړ دی

انګلیسي ښه یې :.http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

دري ښه به یې نن وروسته له ماسپښینه په همدې ادرس د لاس رسي وړ وي.

***